مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۲۶

# ولی، ولی؟

وړوکی ښکلی وی، چی لوی شوی نو بدرنګ ولی شوی؟
تا خو بی نیازه پاچاهی کړه، اوس ملنګ ولی شـــوی؟

تا خـو ویـل چی غرونه غرونه، حـوصله لـــرمـه !
د حـوصلی په آزموینه کی، زړه تنــګ ولی شــــــوی؟

ماته خو داسی ښکاریده، چی تـه یی شـــپون د رمـــی
خـپلی رمـی تـه نیـمه لاره کی، پلــنګ ولــی شــوی؟

تـه خـو په سـمه لار روان وی، دا څـه پیښـه وشـوه
سر په څـنګلونو، په کمـرونو، په ګرنـګ ولــی شوی؟

آینــه دی لاس کی ده خـو، مـخ دی پکی نشــی لیـــدای
دی ته حیران یم چی، په ځان پوری دی تنـګ ولی شوی؟

چا منـحـرف کـړی مسـافـره! د تلـو سـمی لار نه
سپینی جامی دی د خپل ورور، په وینو رنګ ولی شوی؟

ښـکاری خوړلـی دی، په دروِغو وو قسـم کعـبه کی
که داســی نه وی، نو با ننګ اشـنا! بی ننګ ولی شوی؟

دزمـانــی له قضاوت ځان، خلاصـوی به څـنګه
چی بی د لیل خپل کلیوال سره په جنګ ولی شوی؟

اګست/۲۲/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ